Vatandar
وطندار
سیاسی فرهنگی ادبی فلسفی



# د ورکی مینی ورکه مینه

انجینر محمود صافی

مینه په حقیقت کی یو معنوی ارزښت دی چه په لاس سره نه لمس کیږی .او په سترګو نه لیدل کیږی ،اوپه غوږو نه اوریدل کیږی فزیکی موقیعت نلری .مینه کول په انسانانو کی دهغوی طبعی غریضه ده او کله نا کله دژوند په خوالو اونا خوالو کی ډیره زورونکی وی.دلته په اروپا کی په مونږ افغانانو کی دیو ډیر لوړ او باارزښت معنویت مزه او خوند زمونږ په پاتی ژوند کی ډیر کم رنګه اوپیکه دی . دمثال په ډول دلته په مهاجرت کی په اروپا ی هیوادو کی دژوند دتامین دپاره مادی نعمات خورا ډیر دی خو هرڅه بی خوند اوبی مزی ښکاری ،دلته هوا بدله، خواړه بدل ، میوی بدلی ،دا هسی خوب لیدل دی دلته دقندهار، هرات ،مزار،قندوز،پروان،کابل،میدان،لوګر ،اولوی ننګرهار دمیوو مزه کله شته ده.دلته ژبه بدله ،خلک بدل ،اجتماعی اخلاق او منا سبات بدل ،راکړه ورکړه راشه درشه بدله ،کلتوربدل،ننګونه اوغیرتونه ټول بدل دی .رښتیا هم دلته پرندګان او حیوانات هم بدل دی دمثال په ډول سپی همدلته بدل دی. دلته په 25 اروپای هیوادونو کی چه یو کور ویل کیږی او په یو سیستم اداره کیږی .مونږ دلټولوزیار اوکوشش ډیر کووه . هغه ورک ارزښت نه  نه په کور کی شته ،نه په ښاروا و بازارو کی شته دی ، نه اروپای خلکو سره شته دی ،نه افغانانو سره شته اونه ای موندی شی ، نه په قصرو اوجګو تعمیروکی شته دی ، نه په ښکلو اوبد رنګه پیغلو او جنکو کی شته دی ،نه په ترخو اوخوږو اوبو کی شته دی . خلاصه نه په هوا کی شته دی ،نه په بحرو او اوبو کی شته دی ، نه دطبیعت په جوړښت کی دلته شته دی .داسی انځرګل او کیمیا بوټی دی چه پیداکول اولټول ای اخر نلری اوداسی اسم اعظم دی چه پیدا کول ای دلته دژوند تر پایه خورا ګران دی .دلته په 21 قرن کی معاصر تخنالوژی او طبابت ای اعلاج نشی کولی ،ټول لابراتوارونه داکتران او پرو فیسوران ای داعلاج څخه عاجز دی . ټول دروان

شنا سی پروفیسوران دهغه نخسه نشی جوړولی اوتحفه کولی . دا ډیره په زړه پوری او دردونکی معما ده .دمثال په ډول یو جراحی پرو فیسور دخپل دژوند په یاداشتونو کی داسی لیکلی دی .سل تنه مریضان می دځنکندن په وخت کی جراحی کړه ، روح می دیوه په تن کی هم پیدا نکړه چه کلک می نیولی وای .ربښتیا هم د معنوی ارز ښت پیداکول چه فزیکی جوړښت نلری خورا ګران کار دی او زمونږ زړونه ای هر وخت غواړی . ددی تولو سره سره دهغه ورک شوی معنوی ارز ښت د پیدا کولوسوال جواب زما په اند دادی **چه هغه ورکه مینه دوطن مینه ده اوهغه ورکی مینی دوطن دختو کوروونه دی** او بس .وطن زمونږ ټولو افغا نانو ګډ کوردی چه تن مو دلته په ارو پا کی اوروح روان مو په وطن کی دی .دا دی هغه چه نه مو غوښتل دزمانی جبر زمونږ په حال چلیږی .راباندی تحمیل شوی اونن ای میلمه یو.ددی تولو خوالو اونا خوالو سره سره دمتحد ګوند دعضویت افتخار لا زمونږ مسوولیتونه درانه کړه او راتلونکی ارمان زمونږ دژوند دتیاری لاری مشعل کیدای شی.ربښتیا هم دهغه وطن داوبو سره مینه، دخوړو اومیووه سره مینه ،دهواسره مینه ،دغرواو دشتوسره مینه ،دهغه پاکی اومقدسی خاوری دجغرافیه سره مینه ،دوطن دوستی سره مینه زمونږ افغانانو طبعی سریښت دی.مونږ افغانان دلته ددریمی کتیګوری افرادو په قطار کی دمرګ دانتظار شپی اوورځی تیرووه .په وطن کی به مود تیاری دسبا کیدو په هیله اوارزو ربښتیا هم حق به خپل ځای ونیسی .رنا به راشی، خوښی او خوشالی به مونصیب شی، کور به مو خپل شی، هغه ورکی مینی به بیا زمونږ خپلی شی ،هلته به بیا داولسونو او پرګنوسره ډیر ویاړلی او پرافتخاره ژوند ولرو،هلته به بیا دخپلو شهیدانو په قبرونو شمعی بلی کړو او دتعظیم اواحترام سربه ورتیت کړو،هلته به بیا دخپلو پلارونو او میندو په قبرونو اوبه وپاشو.په ورکه مینه کی به بیا دهندوکش ، بابا، سپین اوتور غره ،کاوون او شمشاد په لمنو کی دشپونکی دشپلی ږغ واورو .دچوغکو اوزرکانو اوازونه به بیا زمونږ تر غوږ شی .ورکه مینه به بیا راپیدا شی او مینه به ای مونږ ته سوکالی اوخوشحالی راولی . دا زمونږ حق او زمونږ ارزو ده چه بر یالی کیدونکی ده.په اخر کی ددی یاداشت سره جوخت په ډیر درنښت دمحترمو لوستونکو دپاره دعبدالقدیر وطنوال یو قطعطه شعر ډالی کووم .

**چه وائی :**

لاس کی می امسا چهل تار په سر کچکول ګردن کی وای

کاشکی خپل وطن کی وای

چیری می ګریوان وای ګرځیدلی په میرو کی تل

ښارو جزیرو کی تل

سرو وینو کی رنګ وای خو دخپل وطن اغزو کی تل

شاړو جزیرو کی تل

سرو وینو کی خوبش یم نه دبل کلی ګلشن کی وای

کاشکی خپل وطن کی وای

سوړ سوکرک په کور کی رسیدلی نیم پزی سره

ناست وای خپل پردی سره

وای خپله کوډله کی دیو مړی جواری سره

ناست وای خپل پردی سره

نه چه مسافر په شانی ناست په بل مسکن کی وای

کاشکی خپل وطن کی وای

زه عبدالقدیر وطنوال هر ساعت کی ژاړمه

خپل وطن نه لاړمه

مینه دوطن به تر اخره سلګی غواړمه

خپل وطن نه لاړمه

بل دهمسایه نه شه وای داچه په کفن وای

کاشکی خپل وطن کی وای